Australian Government
Department of Immigration and Citizenship

# د خبروخپرول

جولای ۷ ، ۲۰۱۰

## آسټرالیا د پناه غوښتونکو پالیسۍ بیاوړی کوي

د آسټرالیا حکومت اعلام وکړچې دEast Timor ( ایستیمور) ، New Zealand (نیوی زیلاند) او UNHCR ( متحده قومنو د مهاجرینو دعالي کمیشنری) سره په خبرواترو کی دی چې ترڅو یو سیمه ایز مرکز د هغو کسانو د غوښتن لیکو د اجرأتو دپاره چې په غیر منظم ډول په ګډون د هغو کسانو چې آسټرالیا ته د سمندری جهازو یا کشتی د لاری راځي اوپه لار کښی را ګرزول کیږي جوړ کړي .

د آسټرالیا صدراعظمی Julia Gillard (جولیا ګیلارد) وویل چې د آسټرالیا حکومت د یو مؤثر او تل پاتی یا دوامداره سیمه ایز چوکاټ د انکشاف په ګډون د سیمه ایز اجرأتو مرکز د جوړیدو ورانديز په هکله هوډ کړیدی .

" د سندری جهاز له لاری راتګ بد سیمه ایز آجرأتو مرکز ته بواځی د بیرته تګ یو ټکټ دی" میرمن ګیلارد وویل.

هغه راغلي به مرکز ته ولیږدول شي او که دپناه غوښتونکي په توګه ومنل شي بیا به د میشته کیدو دپاره دریم ګړي هیواد ، ضروري نه ده چې هغه ملک آسټرالیا وي ولیږدول شي. هغه خلک چې پناه غوښتونکي ونه ګڼل شي هغوی به بیرته خپل کور /هیواد ته ستانه شي.

د آسټرالیا حکومت همدارنګه اعلام وکړ چې د سری لانکا پناه غوښتونکو د غوښتن لیکو د اجرأتو ځنډول شوی بندیز به لیری کړي ځکه چې د اصلي هیواد ریپورټونه څرګندوي چې حالات په دی هیواد کی ثبات لري.

د اجرأتو د ځنډولو بندیز د لیری کولو یوه برخه د UNHCR د نوي لاربسود چې په دي نژدی وختو کی خپور شوی ولاړدی، کوم چې ورانديزکوي حالات په سری لانکا کی د ښه والی په لوردي.

ډیر احتمال لري چې د سری لانکا یو محدود شمیر خلکو ته په آسټرالیا کی د پناه غوښتنی موقف ورکړشي، او هغه کسانو ته یی چې آسټرالیا د حمایت دلرلو حق دارنوي هغوی به بیرته ستانه شي.

صدراعظمی سریلانکایانو ته کوم چې وغواړي آسټرالیا ته دراتګ هڅه کوي خبرداری ورکړ.

" دخلکو قاچاق وړونکوته پیسی مه ورکوئ ، خپل ژوند په خطره کی مه اچوئ ، یواځی د آسټرالیا اوبو ته راتګ او دومره لاره وهل ، ډیر زیات احتمال لري چې تاسو به ډیر ژر خپل کورته د هوایی جهاز لاری ولیږدل شئ " میرمن ګیلارد وویل.

حکومت دا بیان کړ چې د افغان پناه غوښتونکو د غوښتن لیکو اجرأتو د ځنډول بندیز به په فوري توګه پای ته ونه رسیږي خو د دی پریکړه او بیا کتنه به راتلونو اونیو اومیاشته کی تر سره شي.

صدراعظمی وویل چې حکومت به دافغانستان حکومت سره دنژدی نه به په یو لړ مهاجرت مسئلو باندی په ګډون د هغو افغانی وګړو یا اتباعو ته چې هغوی دپناه غوښتوکي په توګه منل شوي نه وي افغانستان د بیرته ستیدو دپاره د یو ځای د برابرولو په اړوندکاروکړي.

آسټرالیا دا پتیلی ده چې یو قوی پیام ورکړي چې هغه یواځی اصلی پناه غوښتنکي د د سیمه ایزمنظم مهاجرت چوکاټ له لاری مني.

د سیم ایزملګرو هیوادو سره د نژدی کار کولو د لاری نه د آسټرالیا حکومت هوډ کړیدی چې دخلکو قاچاق وړل بند کړي.

د اخبار معلومات: د تماس اومراسلاتو ملي خانګه ۴۲۴۴ ۶۲۶۴ (۰۲)
نه دخلکو قاچاق وړونکو دپاره: **www.youtube.com/notopeoplesmuggling**